بسم الله الرحمن الرحیم

## یادونه او دردونه

شاعر
**جاوید احمدزی**
خپرندوی
**پخپله شاعر**
چاپکال
**۱۳۹۳ل**
چاپشمېر
**۱۰۰۰ ټوکه**
چاپځی
**اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۶۳۹۳۸۳**
ډیزاین
**سیین سهار**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**خپلې ګرانې او قدرمنې مورکۍ ته!**



# شاعرۍ ته اړ شوی احمدزی

دا دستور دی چې له درده زګېروي خېژي
ګینې خـــــه و د رحمان له شاعـــــرۍ

احمدزی غریب خو شاعر نه دی
مساپر دی چه دا کار او بار کړي

کله کله شاعري د هغه درمل په څېر شي، چې که زخم سوځوي، نو رغوي یې هم، رحمان بابا شاعري د درد زېږنده بولي او حمید بابا د زړه خوناب او دمړي له خولې ختلی دم.

اروا پوهنه بل چا ته په زړه کې د هغو پرتو افکارو، اندېښنو او غمونو بیانول، چې د انسان د ازار او ازیت لامل ګرځي، له زړه نه ددغه ځوروونکي او سوزوونکي بار د کوزولو ښه وسیله ګڼي.

ډېری هغه خلک، چې له خپل دردېدلي او ټپي زړه د دردونو د څرېکو د کرارولو او درملنې بله لار نه مومي، نو شاعرۍ ته مخه کوي، د خپل زړه د غمونو او احساساتو پر سګروټو د هنر سرې زمزمینې اوبه شیندي او تاو یې د شعر له اسویلیو بهر راوباسي.

ښاغلي جاوېد احمدزي هم همدغو غمونو، اندېښنو، احساساتو، افکارو، خیالونو، یادونو او خاطراتو پکو کړی او دا چې بله لار یې نه ده موندلې، نو شاعرۍ ته اړ شوی دی.

احمدزی د بلجیم د پرمختللي هېواد په اسمانڅکو، نڅاځایونو، ګلبڼونو، ګلکځونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رنگینو واټونو او محلونو کې هم ځان یوازې احساسوي، په زړه کې یې د جنګ ځپلي هېواد اوجګړو ځپلو بېوزلو هېوادوالو مینه او یادونه څپې او غورځنګونه وهي او په سترګو کې یې په کلي کې د پاتې شوې معشوقې او د خپل کلي د خړو کوڅو، خړکیو کورونو او خړکیو جوماتونو خړکې تصویرونه رغېږي، همدغه خیالونه او یادونه یې احساس تخنوي او شعر لیکلو ته یې اړباسي.

پرون مې د جومات پېتاوی رایاد شو
قسم چې لاترواسه مې خوږېږي زړه

هغه ته د بهرنیو ملکونو عشرتونه، مستۍ او نڅاګانې خوند نه ورکوي، په دغو عشرتونو کې ګډون او یکې د خپل فرهنګ او کلتور هېرول د ځان لپاره عار ګڼي او نورو ته هم ددغو ارزښتونو د نه هېرولو سپارښتنه او لارښوونه کوي.

مـــکړه د پردو خویونه یاره بې پښتو به شـــی
زده د کړل عجب چلونه یاره بې پښتو به شی

زه او تــــه پښتانه یو او پښتانه به یادیـــــږو
خیر که دې ولید ملکونه یاره بې پښتو به شی

او یا داچې:

نه مې ارام شته نه مې قرار شته
نه مې خزان شته نه مې بهار شته
په غمونو کې ډوب یم ډوبیږم
نه مې هېواد شته نه مې ګلزار شته

زموږ ځینې هېوادوال چې کله بهرنیو هېوادونو ته ولاړ شي، نو بیا هرڅه هېروي، شپه او ورځ له هرې روا او ناروا لارې یوازې او یوازې د پیسو ګټلو او زرو او شته و



ډېرولو لپاره هڅه او هاند کوي، له هیڅ روا او ناروا کاره مخ نه اړوي او خپل وقار او حیثیت د پیسو او زرو قرباني کوي، خو احمدزی داسې نه دی، هغه د ټولې نړۍ زر او زور، پانګه او شته د خپل حیثیت او وقار له یوې زرې سره هم نه برابروي او دا ټول ورته د «د سپي په مخ کې پراته هډوکي» ښکاري او په ډېر ویاړ وایي:

زر څه وي زور څه وي مال څه وي په عشق کې
نـــــادان نه یم چې دې ځیزونو کې ورک شم

هغه که زر او زور هم غواړي نو د ځان لپاره نه بلکې «د دلبرو صدقې» او د خدای د مخلوق د خدمت، پالنې او ژغورنې لپاره یې غواړي.

احمـــــــــــدزیه د مظلوم مرستې ته ورشه
اوس خو د قوم مشرتوب ستا په سر دی نن

احمدزی د «زه او زما ضمیر» تر سرلیک لاندې په یوه اوږد نظم کې له خپل فرهنګ، هېواد او هېودوالو سره خپله رښتینې بې کچه مینه په ډېرو ساده، خو له احساسه ډکو ټکو کې څرګنده کړې، چې دلته یې د لیکنې اوږدېدو له امله راوستل اړین نه ګڼم، خو تاسې ښاغلي او اغلې لوستونکي یې په همدې ټولګه کې لوستلو ته رابولم.

که څه هم په دې ورځو کې زما یو ډېر نازولی او خوږ دوست د ناروغۍ له کبله د ژوند او مرګ د نړۍ پولې ترمنځ ترخې شېبې تېروي او دې اندېښنې زما د ذهن ټوله فضا نیولې، خو ځمکې ته مې د ښاغلي او منلي احمدزي صیب د غوښتنې د غورځولو جرات ونه کړ او د اندېښنو او ژور خپګان د سېلابي څپو په ناکرار حالت کې مې بیا هم د ښاغلي جاوېد احمدزي ددې ټولګې ټول شعرونه او نظمونه ولوستل.

داسې ښکاري، چې احمدزي د شعري تلازماتو او چوکاټونو ډېر خیال نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلی یوازې هڅه یې کړې ده هرډول چې وي خپل درد او احساس د شعر په ژبه له خپلو لوستونکو سره شریک کړي، خپل افکار، احساسات او خیالات خپلې معشوقې، هېواد او هېوادوالو ته ورسوي او له دې لارې د مسافرۍ په دیار کې د خیال په جادویي ځواک هره شېبه خپل سر په هېواد کې د خپلې پاتې شوې معشوقې او خوږمنو هېوادوالو پر اوږدو کېږدي او خپل غمونه وژاړي.

که د ښاغلي احمدزي شعرونه د هنري معیار په دې تله وتلو، چې: «شعر په زړه کې د پرتو احساساتو ترجماني ده»؛ نو د ښاغلي احمدزي ټول احساسات او افکار منلي، سپېڅلي او د قدرونې وړ دي، ځکه هغه تل د یو پرمختللي هېواد په خوندونو او مزو کې د هېواد او هېوادوالو د غمونو او اندېښنو پر سکروټو ناست، د خپل جانان تصویر یې مخې ته ایښی، خوبونه یې پرځان حرام کړي او تل یې له دغو غمونو له امله ژړلي دي.

زما پر هېواد باندې بل اور دی زه به څه خوب وکړم
نن ټول ژوندون راته پېغور دی زه به څه خوب وکړم

یا دا چې:

احمدزی به دې تصویر ته همیش ژاړي
قسم تل به یې په اوښکو صفایي کـړم

یا هم دا چې:

ای! د کلي اشنا ته نن په خندا شه
د ښار زخمونو ته مې یو څه دوا شه

لکه وړاندې چې مې وویل، ښاغلي احمدزي یا خو د خپلو افکارو او احساساتو د بیان او ارائې پروړاندې شعري اصول، تلازمات، چوکاټونه او اوسني معیارونه او غوښتنې په پام کې نه دي نیولي، بلکې هڅه یې کړې ده یوډول نه یوډول خپل افکار او خیالونه خپلو لوستونکو ته ورسوي، ځکه نو هغه په خپل شعر کې د



بدیعي اصولو او هنري ښکلاییزو تلازماتو پروا نه ده ساتلې او څه یې چې په زړه کې وو، په بشپړې ربښتینولۍ یې په ساده او عامیانه ژبه لکه هنداړو صفا صفا د خپلو لوستونکو مخې ته ایښي دي.

همدا لامل دی چې د ښاغلي احمدزي په ډېریو شعرونو کې د نورو برخو ترڅنګ شعري وزن او آهنګ هم ډېر نه دی ساتل شوی. د هغه ډېری شعرونه د بهرني وزن یعنې د څپو د شمېر له پلوه ډېره نیمګړتیا نه لري، خو د داخلي وزن یعنې د ویونو او کلماتو ترمنځ د آهنګین ترښت، سلاست، روانیت او همغږۍ له پلوه څه نا څه نیمګړتیاوې او ستونزې لري.

د هغه ځینې شعرونه داسې دي، چې که په یو بل ډول ولیکل شي یا څپې یې کمې یا زیاتې شي او تر پایه په هماغه وزن او آهنګ ولیکل شي، نو ښه شعرونه ترې جوړېږي، لکه دغه دغه شعر:

دغه درې په ډېر ورو ورو په کرار کرار خراب کړم
یــو دلدار دویم اغیار درېیم روزګار خراب کړم

که دا شعر داسې شي چې:

درېو ورو ورو کرار کرار خـــــراب کړم
دلدار، اغیار او بل روزګار خراب کړم

او تر پایه په همدې وزن او آهنګ ولیکل شي، نو زما په اند ښکلی شعر به ترې جوړ شي.

همداراز په ډېریو بیتونو کې که یې کلمې سره لږ وړاندې وروسته شي نو د بیت آهنګ او روانیت هم پخپله پرې سمېږي، خو ښاغلي احمدزي ډېر سر پرې نه دی خوږولی او یوازې یې د خپل فکر او احساس د لېږد او انتقالولو ډېر خیال ساتلی دی.

زه یې دلته یو څو بېلګې راولم او قضاوت تاسې ته پرېږدم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهم(ع) لره تا اور لکه د گل کړو
نمرود د زمانې خو به رسوا کېږي

که دا بیت داسې شي، چې:

ابراهم(ع) لره تا اور لکه د گل کړو
خو نمرود د زمانې به رسوا کېږي

یا هم دا بیت:

ستا په حکم ځوک پاچا شي، ځوک گدا شي
هر یو ناشکر شي، ژر به فنا کېږي

که ددې بیت دویمه نیم بیتي هم داسې شي، چې:

چې ناشکر شي نو ژر به رسوا کېږي
فکر کوم بیت به خپل وزن او آهنگ بیامومي

دا بل بیت هم وگورئ:

اې گریوانه په اوښکو دې لمدومه
زه لکه شبنم ستا په نصیب خور پروت یم

که داسې شي، چې:

لمدومه دې په اوښکو اې گریوانه
لکه پرخه ستا پر بخت باندې خور پروت یم

نو فکر کوم سلاست او روانیت به پیدا کړي.
همداسې نورې ډېرې بېلگې یې په همدې ټولگه کې لوستلای شئ.
احمدزي صیب ته د لا ښکلې شاعرۍ په هیله!

عبدالغني (هاشمي)
د میدیوتیک افغانستان مرکزي دفتر – کابل
د ۱۳۹۲ لمریز کال د مرغومي ۲۵مه



# حمد

چې مې په ژبه د الله(ج) ثنا کېږي
لویه ربه هر څه ستا په رضا کېږي

هغه دم چې په لوستل د پاک کلام شم
زړه مې صفا شی هم روح مې صفا کېږي

ته عالم یې ته خالق د ټول جهان یې
زه عاصي یم، له ما سهوه، خطا کېږي

ابراهیم(ع) لره تا اور لکه د گل کړو
نمرود د زمانې خو به رسوا کېږي

د نوح(ع) بېړۍ په سین کې چېرته ډوبېږي
پر ځمکه واړه د رب په سلا کېږي

ستا په حکم ځوک پاچا شي ،ځوک گدا شي
هر یو ناشکر شي، ژر به فنا کېږي

خدایه په نصیب مې د کعبې دیدار کړې
په اخلاص به مې قبوله دعا کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسافر

لمبو سوی یم په غاړه د گور پروت یم
«د ایرو غوندې سپک شوی په اور پروت یم»

هم مې هلته هم مې دلته قدر نشته
یو د کفر بل د اسلام په تور پروت یم

پروت یم د غمې جال کې وینې مې څښي
بېچاره یم، مسافر یم سر تور پروت یم

ای گرېوانه په اوښکو دې لمدومه
زه لکه شبنم ستا په نصیب خور پروت یم

ځواني مې د خارج کارونو وخوړه
لکه بې پلاره ماشوم په هر لور پروت یم

نه گودر شته نه د پیغلو شورماشور شته
ډېر وخت نه ارمانجن د هغه شور پروت یم

احمدزي ته په پښتو ښکنځلې وکړئ
زړه کې به وایم چې اوس په خپل کور پروت یم



# غزل

نن مې بیا په هغې ښکلې لږ نظر شو
اف!عجب درد مې دننه په ځیگر شو

ستا له ښایست نه لمر سوزي سرې لمبې کړي
ماښام بیا د پورې غر شاته سنگر شو

عشق لکه د خس سپک کړمه، دروند پښتون وم
محبت مې زړه ته راتېر په هنر شو

دا ستا رنگین خیال چې ذهن ته راغی
دا زما وران غزل سم لکه گوهر شو

تا چې زما نوم په خپله خوله واخیست
بل اختر به څه کړم اوس په ما اختر شو

ستا په مخکې تنها دغه نه شم ویلی
تا سره مینه لرم راته لوی غر شو

احمدزیه راته ښکاري چې مین شوې
ستا ځای کور که نه په پښو کې د دلبر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ای! د کلي اشنا ته نن په خندا شه
د ښار زخمونو ته مې یو څه دوا شه

سپینه یې، سپینه وایې، سپینه یاري کړې
زه هم سپینه سپینه وایم چې زما شه

طالب به زه، آدم به زه، قیس به زه شم
ته گل بشره، ته درخو، ته مې لیلا شه

لگه پتنگ چې اور کې سوځي غږ نکړي
داسې مې ژوند په پټه خوله زار له تا شه

د غرونو کاڼي گاټي ستا مستي غواړي
په څېر د غرڅنۍ مسته بې پروا شه

یک تنها د چنار سیوري لاندې ناست یم
ستا دې قسم وي چې لږه را پیدا شه

د لرې ښار نه بیمار او سترې راغلم
اوس دې غریب احمدزي ته مسیحا شه



# غزل

ستا یادونو د عمرونو سودایي کړم
زما توبه ده که به بیا اشنایي کړم

سباناري کې مې غم خوراک څښاک شي
مینې څه عجب غمجن په سبایي کړم

نصیب کې مې دیدن نشته، مسافر یم
ډېر بیمار، رنځور دغه ستا جدایي کړم

دا لس دولس کاله مې بېلتون کې تېر شو
تر کومې به ستا د وصال گدایي کړم

تا د پښتو رواج ته غاړه کېښوده
ما په زړه تېره کېښوده دانایي کړم

احمدزی به دی تصویر ته همېش ژاړي
قسم تل به یې په اوښکو صفایي کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې د عشق له بابه ساز کړم تل حرفونه
خاورې به مې زده شي د دنیا علمونه

زړه مې لکه د فلسطین ځمکه سوځي
اسراییل ودانوي په کې کورونه

ربیار هم په یو لیک څو څو کاله تېر کړي
د مېږي په اوږو بار زما خطونه

کله کله خو په سوچ کې داسې ډوب شم
لکه په ویښه چې څوک کوي خوبونه

دننه خوږ ځیگر مې لمبه لمبه شي
چې رایاد شي د ځوانۍ هغه وختونه

یا خو مې رنځ په قسمت دی نه رغېږم
یا خو زما د یارۍ نشته خوندونه

احمدزیه د غمونو تېکه دار شوې
ته همېش لیکې له درده ډک شعرونه



# غزل

چې ستا له مخه لرې شو نقاب دغه نن شپه
زما خراب خو شو خانه خراب دغه نن شپه

که غم دی که درد دی که زخم دی یا پرهار دی
دا همه به له زړه نه کړم ځواب دغه نن شپه

چې یار ته مخامخ شوم، داسې خوله خوله شوم
ته به وایې که پروت یم په پنجاب دغه نن شپه

رقیبان دې چیغې سورې کاندي پروا نکړم
خس اوخاشاک به ورک کاندي سېلاب دغه نن شپه

د هجران وچکالي ځپلی وم، ډېر تږی وم
د زړه دا سپېره دښته شوه سېراب دغه نن شپه

زاهده! زما او ستا حساب کتاب خو تل وي
بس د ننني شپې مکړه حساب دغه نن شپه

لکه لېوني سړي احمدزی بیا بیا وایي
زما خراب خو شو خانه خراب دغه نن شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زیندۍ

د عمرونو عمرونو مساپر افغان دار ته خېژوي
څومره اسانه بې پرسانه يو انسان دار ته خېژوي

د غرغرې رسۍ ته چې منصور غوندې په مينه ګوري
اې مرګيه! بيا سپين سرى په سپين ميدان دار ته خېژوي

جلاده! پام کوه چې په سپک نظر ورته ونه ګورې
ستاسو خپل مشران ستا په لاس ستاسو مهمان دار ته خېژوي

په ژړا له کور نه راوتى، په خندا ته روانېږي
ځار دې له خندا نه شم هغه په ما ګران دار ته خېژوي

چارواکو لږ شانته فکر وکړئ؛ دا نن چې اعدامېږي
داسې سوچ وکړئ لکه چې ستاسو سلطان دار ته خېژوي

وطن کې يې ماشومان وايي چې پلار به مو ژر راځي
خو څه پوهېږي چې د دوى د زړه ارمان دار ته خېژوي

احمدزيه تا خو د ښکلو پېغلو صفتونه کول
اوس سرى شوې اوس دې د ګل په شان خپلوان دارته خېژوي



# غزل

دغه درې په ډېر ورو ورو په کرار کرار خراب کړم
يو دلدار دويم اغيار درېيم روزګار خراب کړم

د عشق په جوارۍ کې مې د ځوانۍ خوبونه بايلود
زه لا پوخ جوارګر نه وم، د مينې قمار خراب کړم

يو خو ته له ځايه ښايسته يې، بل لوڅ مخ ګرځې
ستا دغه کار دغه ادا دغه رخسار خراب کړم

باڼه دې لکه ستنې د مفتون په زړه ښخېږي
توبه له دې خونخوارو سترګو چې ديدار خراب کړم

څه ښه متل دي (چې زور نه لرې برېت مه لويوه)
ومه کمزورى د زورورو ناتار خراب کړم

د يو يو بيت لپاره تل شپې راباندې سهار شي
بس دغسې شاعري دغسې اشعار خراب کړم

احمدزيه ګوره سم پښتون شه يا سم مين شه
چا ته کله پته ده چې کوم يو پرهار خراب کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې مې خواته راشي، زړه مې په درزا شي
کله مې رضا شي، چې له ما جدا شي

اف! قاتل بانه دې بیا کوي قتلونه
جلادان خو تل مقتول لره سلا شي

مجنون به سل ځلې پر ما آفرین کړي
که یو ځل مې خبر د سر له غوغا شي

اې د جګو غرونو لېونی جانانه
لېوني به د ښار خلک په رښتیا شي

ستا په شونډو کې مسکا، سترګو کې حیا
زما ژوند ته دغه دوه خیزه بلا شي

مورې څه له سپېلني راته لوګي کړې؟
د عشق رنځ چېرته روغ په دم او دوا شي

ستا په ساده کتو په ساده خبرو
دا ساده احمدزی به اخر رسوا شي



# غزل

زه چې ستا د زړه خان وم د زړه سره
ته مې ځان زه دې ځان وم د زړه سره

زمونږ د مینې مسته دنیاګۍ وه
ته پېغله وې، زه ځوان وم د زړه سره

ځیني وخت به مې منګي درماتول
لږ شوخ وم، لږ هم وران وم د زړه سره

له ما نه به زر زر مروره شوې
خو په تا باندې ګران وم د زړه سره

دا اوس چې بې له یاره سودایي یم
کله په دغه شان وم د زړه سره

سږ کال احمدزی بې جانه غوندې دی
هغه تېر کال ستا جان وم د زړه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه تورن یم، ستا په تور ستا زړه له ما نه تور
ای د سترگو توره تورې خاورې به شم نور

خونې بڼو دې داسې چارې پر ما وکړې
لکه کافر لښکر چې وکړي د چا پر کور

د زړه خبرې په سترگو کې وي متل دی
په سترگو کې شرر گرځوم، په زړه کې اور

چې له ډېره ضده مخ پټ کړې په سالو کې
څوک کله کاندي په مین دومره ظلم زور

وی مې دا حال مې ولې هره ورځ بتر شي؟
وې یې چې ډېر ښه وشو، بند کړه دا شراوشور

په نن او سبا او بل سبا مې ژوند تېر شو
د ځوانۍ فصل مې آشنا ورېبل په لور

احمدزیه آفرین شه په دې شوخ غزل
په سپینه ږیره چې نه ډارېږې له پېغور



# غزل

یوه نه دوه نه درې نه د ښکلو ډېرې کانې دي
د مینو وژلو ته بانو پسې بانې دي

دا مې د دلبر په مخ یو څو خالونه ښکارېږي
که په ازبکي ټیکله د خاشخاشو دانې دي

ستا خو زلفې د خیاله زنگېدې باد پرې بد نام شو
یا باد ته شې غصه یا ما ته، څومره دې مانې دي

زما فکرونه، زماخوبونه، زما ټول ژوندون
تا نه شي لوگي له تا ځار همدغه مې تالې دي

د میاشتو میاشتو د کلونو مساپره یاره
ځکندن ته مې راشه، نورې ختمې زمانې دي

احمدزیه ستا د لوکسو ښارونو سره څه کار ؟
تاسره دې جېب کې یواځې لس دولس انې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوښتنه او ځواب

ما ویل هو هو ظالمې څومره نازېږي؟
وی ها ها ته خو په مینه نه پوهېږي

ما ویل وېښتان مې په څه ژر ژر سپینېږي؟
وی په وچو لرگو لا ښه اور لگېږي

ما ویل پته دې راکړه، چېرته اوسېږې؟
وی د سپوږمۍ خور یم، ما ته نه رسېږې

ما ویل رنگ مې ولې هره ورځ زېړېږي؟
وی ته له ځایه ناروغ یې، تل چغېږې

ما ویل زړه مې صفا دی څه له ډارېږي؟
وی دروغ وایې، بېخي مې نه خوښېږې

ما ویل زه له تا ځار ته له چا ځارېږې؟
وی تا غوندې خوار د روپۍ دوه خرڅېږي

ما ویل احمدزی جیز کې پسه درلېږي؟
وی کوچی سړی یې، ته کله شرمېږې



# غزل

د ملنگ په شان زه ښه یم د هر چا په مخ کې
لکه د غر مې کړی بخت بس د یو چا په مخ کې

نه پوهېږم چې حجره کې شمع ولې ژاړي
که له شرمه ویلې کېږي دا ستا په مخ کې

قلمه! نن دې بیا په رگ کې وینه بندېږي
د پښتو غزل به لیکې ته زما په مخ کې

ما ویل تر څو به د عشق اور پټ ساتم په زړه کې؟
وی داسې خبرې مکړه د دنیا په مخ کې

په پردي ملک کې خاني نه کېږي، دا متل دی
دغسې به ځان خان، خان کړې د لیلا په مخ کې

احمدزی کوچی سړی دی، صفا وینا کوي
ژبه یې بنده بنده شي د اشنا په مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلوریزه

د رقیب په نرمه ژبه په نرمه وینا مه نازېږه
ګوره د ژمي په لمر د غلیم په خندا مه نازېږه

دا نن چې اشنا له اشنا سره خبرې نا اشنا کړې
د قصاب په اشنايي باندې ګرانه اشنا مه نازېږه

## ځلوریزه

اوسپنه چې څومره ټکېږي، هغومره پخېږي
د پښتون بچي هروخت ورو، ورو میدان ته ګرمېږي

دښمن يې مدام پر مېنه ورشي خو دا يې هېرشي
هغه څوک چې اور ته نژدې کېږي اخر سوځېږي



## غزل

سترګې نه پرانیزم، خوبونه په کې ساتم
ګله هره شپه ستا یادونه په کې ساتم

د کمیس پاس جېب مې چې زړه سره نژدې دی
یواځې د جانان خطونه په کې ساتم

ته به وایې زړه زما سمه خزانه ده
هر دهلېز کې رنګ، رنګ غمونه په کې ساتم

وی يې څه له دې سینه سوځي تل چغېږي؟
وی مې چې عاشق یم، اورونه په کې ساتم

د احمدزي اغزن ژوندون اغزنه برخه
خو ستا کمځو ته به ګلونه په کې ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نن مې ډېره يادېدې ما ويل خبر به دې واخلم
زما اوښکې بهېدې ما ويل خبر به دې واخلم

کابل کې سره هوا خېمو کې هلمندي ژړا
څنګه واورې ورېدې ما ويل خبر به دې واخلم

غزلې به په څېر د سپېلنې درته لوگي کړم
کاش چې ته په گرمېدې ما ويل خبر به دې واخلم

ستا هغه دنګه ځواني، دنګه ونه، دنګه غاړه
اُف، بند په بند ماتېدې ما ويل خبر به دې واخلم

قسم چې پرون مې ډوډۍ ستوني نه نه تېرېده
سلگۍ مې نه درېدې ما ويل خبر به دې واخلم

احمدزيه تر څو به د وير په ټغر ناست يې
څه له يار نه شرمېدې ما ويل خبر به دې واخلم



# سوالگره پېغله

يوه غريبه نجلۍ په مخه راغله
ته به وايې چې سپوږمۍ په مخه راغله

د مخ په ليدو مې سترگې برېښېدلې
قسم ما په زړه کې گوړې ماتولې

ځان ته مې ويل چې مين شوی ځوانه
مينې نه بغير ژوندگي شوه گرانه

ښکلې پېغله ورو راته په خندا شوله
خوړلو ته سمه لکه حلوا شوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای! د زړه سره ومنه سلامونه
حکم کوه پر ما څه دي ستا حکمونه

هغې هم په داسې شانتې ځواب راکړ
پرې شوي د ظلمونو ټول حساب راکړ

ویلې چې زه یتیمه پښتنه یمه
مجبوره یمه ، خو ډېره درنه یمه

زه هم تل د ناوېتوب ارمان کومه
تا غوندې هوس د یو جانان کومه

خو نن سوالګره یمه، خیرات غوارمه
له تا نه ستا د ځوانۍ ذکات غوارمه

که ته پښتون یې وچ مې د سترګو نم کړه
یو څو روپۍ راکړه، درد مې د نس کم کړه



# غزل

زړه چې په درد شي خوبونه شي مرور مرور
د عشق ښونځي کې درسونه شي مرور مرور

د اوښکو په دریاب کې مې د ژوند کښتۍ ډوبېږي
نور نو د صبر بندونه شي مرور مرور

بازار ته چې لاړ شم د بورې په ځای مالګه راوړم
داسې سړي نه فکرونه شي مرور مرور

تر څو به یخ وهلي اسوېلي ګوګل کې ساتم
اخر ستوني کې اهونه شي مرور مرور

شاعري هم عجب کار دی کله ډېر څه ولیکم
کله بیا ما نه شعرونه شي مرور مرور

زما پر وطن یلغار دی دلته جنګونه دي
دا ځکه په مونږ ناتار دی دلته کانونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتون په سر گذار دی دلته چلونه دي
یو شوی ورته اغیار دی دلته لالونه دي

سینه د یتیم پرهار دی دلته ظلمونه دي
شهید شوی یې خوږ پلار دی دلته غمونه دي

څوک د لستوڼي ښامار دی دلته عیبونه دي
څوک غلط یا ډېر مکار دی دلته مکرونه دي

په تبر مات هر چنار دی دلته گلونه دي
د ښکاریانو جوړ ښه ښکار دی دلته سرونه دي

د کار په وخت کې بېمار دی دلته خوبونه دي
تش خبرو ته تیار دی دلته حرفونه دي

بس یو گرم د غم بازار دی دلته دردونه دي
د افغان په کې روزگار دی دلته سوچونه دي

اوس څه نا څه قوم بیدار دی دلته مېړونه دي
یو کرم د رب پکار دی دلته سوالونه دي



# غزل

څه به وکاږم تعریف د شهلا سترگو
زه خو یې لوټلی یم د اشنا سترگو

دري څیزه زما دلېونتوب سبب شول
یو خال بل تور حجاب درېیم همدا سترگو

جانان د بام پر سر زه د ونې لاندې
په دا پټ پټ کتو کړمه رسوا سترگو

دا زرکه ده چې راځي که مې یار راځي
یا څه غلطي شوې ده له ما سترگو

د سترگو تور د سر وېښته مې سپین شول
اوس ارمان کوم د هغه بینا سترگو

احمدزی تل د اور په مجمر کې سوځي
بس راکړې مدام دغه سزا سترگو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

خیر که نن هیڅ نه وایې سبا خو را ته ووایه
ای ! د زړه ارمانه ربښتیا خو را ته ووایه

زه به کچکول په غاړه درشم ستا تر دروازې
ته سالو کې څه په خندا خو را ته ووایه

عشق کې ورځ تر بلې خرابېږم رنګ مې زېړ دی
زما طبیبه څه دوا خو را ته ووایه

پوهېږم چې لاره کې لوی لوی ګړنګونه دي
ولې مې ړوند بولې بینا خو را ته ووایه

دلته بام ته ختل د سر خطر لري ګرانې
دېواله له شا نه اشنا خو را ته ووایه

احمدزی که اور کې سوځي بې پښتو به نشي
ستا چې نه خوښېږم صفا خو را ته ووایه



## غزل

نن چې آشنا کوي نا آشنا خبرې
د ماشوم په شان کړي بې پروا خبرې

که زه خپله ژبه خپله مېنه ستایم
په تا ولې بد لګي ربښتیا خبرې

ما ته دا غلې شي ګوته تل په خوله ږدي
بس زړه کې مې پاتې شي بلا خبرې

جانان هر یو ته د زړه په غوږو غوږ و
یواځې یې نه منل زما خبرې

قلم مې له ګوتو نه ولېږي خوب راځي
سبا ته به کوو د سبا خبرې

د احمدزي په سینه کې ډېر، ډېر څه دي
کله شي هر چا ته د هر چا خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکه د وریځ زه یمه سرگردانه
کله دلته کله هلته بې مکانه

راغلم تر دې ښار په لټون د هغه یار
نښه یې دا چې ده مسته غزلخوانه

په تپوس پوښتنه لندن پیدا کېږي
ځکه خلک در روان دي انگلستانه

برخه کې مې تل د اشنا غمونه دي
اوس غم دي راته خوږ دی د زړه ارمانه

تا د مینې ماڼۍ جوړه کړه په هند کې
دلته جونگړو کې سل، سل شاه جهانه

مدام احمدزی ستا له دره تش لاس ځي
غریب باندې ته هېڅ نه شوې مهربانه



# غزل

پر دغه ښار چې تېرېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي
ښکلي د هر چا خوښېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

شېرينو چې چيغه کړه د مومن خان په سترگو تياره شوه
د شپې هر سړی ډارېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

د مينې سمندر کې چې سم ورگډ شي، بېلتون پرې راشي
له تندې بيا چغېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

يو د اشنا ياد دوهم د وطن باد دريېم غماز بدزاد
مساپر ته ټول يادېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

د ستنې له سوري نه تېرېدل خو د هر چا کار نه دی
عاشقي داسې سختېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

شاعري گوره خومره گران کار دی د زړه وينې وچوي
د غريب خونه ړنگېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

احمدزی پښتون وو، چې پښتنې ته يې د زړه حال وويل
بل ته يې سر نه ټيټېږي څوک حال وايي څوک يې نه وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا زما پر زړه داغونه ښایسته ښکاري
لکه ستا د مخ خالونه ښایسته ښکاري

څو ځلې وکړي وعده بیا ماته کړي وعده
د دروغجنې لفظونه ښایسته ښکاري

ما ته یار یو د پاسه سل کنځلې کړي
نوې یارې کې جنګونه ښایسته ښکاري

د شمعې په دود جانان تل سوځول کړي
د پتنګ برخه اورونه ښایسته ښکاري

لرې ژوند، لویه دښته او کچه غرمه ده
بیا هم د دوبۍ ښارونه ښایسته ښکاري

څه ستا یاد څه د چم ښایست څه د مور مینه
مسافرې کې یادونه ښایسته ښکاري

مونږ د پکتیا خلک له آره شاعران یوو
اوس د احمدزي شعرونه ښایسته ښکاري



## څلوریزه

زه چې یواځې شم سوچونه ستا راشي
له خیاله یې شرمه خو بیا راشي

نه ډارېږم له نار یا له داره څخه
بس پښتنې مخکې خوله په ما راشي

## څلوریزه

قسمته ! دا مینه ده یا لېونتوب ځواب راکړه
ساده دی زما زړه چې کوي مینتوب ځواب راکړه

د عشق په مېچن کې یو ځل رېزه، رېزه شوی یم
که په ما پښتون کې نشته سړیتوب ځواب راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مکړه په مړو سترګو کتل خون به مې شي درغاړې
وژنې مې څه له بې اجل خون به مې شي درغاړې

لېمو دې له کاره ویستلی یم بس مې تور وه
جېب کې تل کرځوې کجل خون به مې شي درغاړې

په نرۍ لاره چې مې نرۍ ملا په مخه راغله
تېښتې ته بیا کوې تکل خون به مې شي درغاړې

ما د هجران درنې څپېړې پر مخ خوړلې دي
شړې مې چم نه په کنځل خون به مې شي درغاړې

تشه لاسه ته مې دښمن یې جانان ګرم نه دی
ځکه سپک یم په هر محل خون به مې شي درغاړې

کابل کې به هله د پښتو قدر یو په سل شي
که ښکلي پوه شي په غزل خون به مې شي درغاړې

د احمدزي به دا یو څو بیتونه توپان جوړ کړي
بس ته بس کړه دا غاښ چیچل خون به مې شي درغاړې



# پردېسي ارمانونه

څومره خوند چې یتیم سره په ژړا ده
هسې چېرته امیر سره په خندا ده

زما یواځې، یواځې ځان بهر دی
روح مې اوس، اوس هم په زړه کې د اسیا ده

زه موسی خان به څنګه غزني هیره کړم
هره تپه کې مې ګلمکۍ اشنا ده

سوالونه وګړئ په زیارتو د وطن
دغه مېنه مو جنت په دې دنیا ده

شعر مې لیکل یو دم راباندې سبا شو
ګوره پروانه تل پر شمع شیدا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې د بڼو په شان د غشي پر ما يلغار کړي
لکه ظالم پوځ د زړه پلازمېنه مې ناتار کړي

بورا به هغه دم د گلانو طواف پرېږدي
که ما غوندې مينه د خوبانو په رخسار کړي

يو يې سترگې تورې بل يې رانجه کړه پرې پورې
نو ر وژلو ته د عاشقانو څه تلوار کړي

زه د ښکاري په دام کې پرېوتم بې خبره
د صياد په دود اشنا د مفتون زړونو ښکار کړي

دا چې څومره غمونه پر ما باندې انبار دي
مينه کې پښتون يم، کنه غر خو هم هموار کړي

خلک مې بولي مجنون د عشق په کار او بار کې
پتنگان سوځېدلو کې د مينې اظهار کړي

د غزل په زده کړه کې زه لا ښخي ماشوم يم
د يار يادونه دي چې رنگين زما اشعار کړي



# غزل

خلکو راشئ ما د يار کلي ته بوځئ
دغه ملنگ هغه خوار کلي ته بوځئ

د گلانو چم کې چې اغزي لټوي
دا لېونی له دې ښار کلي ته بوځئ

ترڅو به بند يم د سرو زرو پنجره کې
مسافر خو هم يو وار کلي ته بوځئ

زه چې ځان ساتم له هر توفانه څخه
نن مې په غاړه کې دار کلي ته بوځئ

نور مو بهانې نه منم ژر شئ ژر شئ
احمدزی پر نږدې لار کلي ته بوځئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مظلومې چیغې

راشه چې څه غمونه سره شریک کړو
د قندهار یادونه سره شریک کړو

د شین اسمان تر لاندې د شنو فصلونو
هغه تېر وختونه سره شریک کړو

زما د ماشومې لوړکۍ خوږه پښتو
اوس یې تش سوچونه سره شریک کړو

سپېره مخ یم د چورلکو په نڅا کې
بس خړ پړ رنګونه سره شریک کړو

تا چې تل ستاینه د ګودر کوله
لوټ شوي خیالونه سره شریک کړو

نه اورې د مظلوم فریاد ټول کاڼه دي
څو پاتې غږونه سره شریک کړو

د احمدزي مقصد پښتون ویښول دی
د وروری لفظونه سره شریک کړو



# بګتۍ (لوبه)

ټوله نړۍ ګوره د ژوندون په لاره تلوار کړي
پښتون خوشې روزګار کړي

کاغذ قلم خپل دښمن بولي
ډېران به تل ګلشن بولي
نور نیم، نیم؛ خو ځان یومن بولي
اغیار ته څه وایي نه پر تربور مدام یلغار کړي
پښتون خوشې روزګار کړي

تیارو کې له دنیا بې خبر
ظلمت کې له عقبا بې خبر
کلي خان له ګدا بې خبر
شتمن خاندي په غریبان ټېټ د نیکه وقار کړي
پښتون خوشې روزګار کړي

سفرونه د ټول جهان کا
غیر ملکونه ډ یر ښه ودان کا
چې فکر یوسي بیا ارمان کا
اوس پر سر وهي لکه مچ د غلطۍ اظهار کړي
پښتون خوشې روزګار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما هېواده

چې مې رایاد شي خپل وطن سوکه سوکه ژاړمه
لکه بلبل دبل گلشن سوکه سوکه ژاړمه

د بېلتون تناره کې په رنگ د ډوډۍ سوزم
اوس لوغړن یم پر سوختن سوکه سوکه ژاړمه

د یعقوب په شان تل یوسف، یوسف چیغې کړمه
بخت کې مو نشته دی دیدن سوکه سوکه ژاړمه

وربځو زما پر هېواد خیټې تشې نکړې
سپېره پاتې شو خوار چمن سوکه سوکه ژاړمه

سپینې واورې د سالنگ په قبر انبار غواړم
شناختې ته هم سپین کفن سوکه سوکه ژاړمه

نمرود لره ابراهیم، فرعون لره موسی وو
داسې به مات شي هر دښمن سوکه سوکه ژاړمه

که زما وینا ستا زړه کې مینه زیاته نکړه
بیا نه پښتون یم نه تورزن سوکه سوکه ژاړمه



# غزل

تصور کې دی ستا تصویر خوږې پښتنې
زړه هم تا پسې زهیر خوږې پښتنې

غبرگې سترگې شولې لېچن په تمه تمه
کله ختمېږي دا شوگیر خوږې پښتنې

شوخه ځواني دې را نه جوړه کړه غزلبول
ماښام، ماښام کې شم دلگیر خوږې پښتنې

ستاسو مالت کې باران چې ته باران بولې
زما د اوښکو دی بهیر خوږې پښتنې

د پښتون ژبه، ژبه وي تر مرگه پورې
دا ژمنه ده د یو حقیر خوږې پښتنې

نه گورم مرات له یواځې پکې ته ښکارې
اوس بند یم د فکر په زنځیر خوږې پښتنې

د سوالگر سوال ومنه یا د زړه خبره
چې څه کېږي تن په تقدیر خوږې پښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یتیم اختر

نن مې ولید یو یتیم په بازار کې
وړوکی سوال ته وو ولاړ کتار کې

لوڅې پښې، ببرسر، تار تار کمیس
څښېده د غټې هټۍ وال دربار کې

د کوچنیانو په ژبه پیل کړه وینا
هر یو لفظ یې زما زړه داغل په رښتیا

مورجانې را لېږلی یم ستا لور ته
که خیرات راکړې یوسمه خپل کور ته

وړې خور مې را نه غو شتې ګوډۍ ده
پر دغه ځېل خو پاتې له ډوډۍ ده

یو ورورک لرم هغه هم ژاړي
اختر وایي څه پیسې غواړي

د دوکاندار خو ښه بازار ګرم و
چیغو ته د یتیم چېرته زړه نرم و



څه شتمن خلک ورته راغلي وو
څو یې زمونږ د ښار ستر ښاغلي وو

خو د هیچا هم فقیر ته پام نه و
مستمند ته یو د زهرو جام نه و

چا ورکړه یوه منډه، خوسا کېله
وویل ته څه کوې اختر او مېله

محتاج غریب پاس وکتل اسمان ته
په ژړا ژړا یې وویل سبحان ته

ربه مونږ هم ستا بندګان یو
ولې دا هسې خواران، ناچاران یو

دا پېښه چې کړمه تاسو ته بیان
د زړه تول پرهارونه مې شي عیان

څه اوښکې راسره یاري نه کوي
څه قلم راسره ځواني نه کوي

بس نور به زه څه ووایم یارانو
خو چې یتمان هېر نکړئ ځوانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غرل

د یار یوې غمزې کړمه لېونو سره ګډ
اوس بلهاریږم په شمع پروانو سره ګډ

زه تکړه پښتون مدام عزم فرهادي لرم
ځکه قسمت کړمه د جګوغرونو سره ګډ

د اشنا د زلفو نګهت راغی له کوم لوري
دا فکر شو ګلګون که شوم خیالونو سره ګډ

داسې کوډې د ښکلو مینې پر ما وکړلې
ژوند مې قبول مجمر کې تل سپېلنو سره ګډ

احمدزی که د مینې په ځېل ځان قربان نه کړ
بیا نو مې ښخوئ خپلو پښتنو سره ګډ



# سودا

زمونږ کلي کې یوه غټه ونه وه
د ډېرو عمرونه ښه پلنه وه

هلکانو په کې زنګل بې غمه
چا به ترې پټ خس ځنډل بې غمه

جونو به سیوري لاندې دمه شوې
ځینې، ځینې ګودر ته په غوسه شوې

چا به ویل دا لاره څومره اوږده ده
نورو ویل شکر ونه خو شته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا له سیوري نه یې خوند اخیستل
ورو به له خبرو پند اخیستل

غرمو کې به چې لمر سیزل پیل کاوه
مرغانو به ونې له سېل تل کاوه

هو دغه ونه د ټولو تمځای و
په ربښتیا چې ښایسته او سمځای و

که نرۍ وه ودانه یا به شاړه
زمونږ ونه له سدو نه ولاړه

مدام به سیوری د کلي پر سر و
خلک هم په دي نعمت ښه خبر وو

ناڅاپه پاڼې په رژیدو شولې
هر یو، یو رګې په ژړیدو شولې

څانګو کې وینې ټوپونه نه وهل
نور توپان سره زورونه نه وهل



چم والا به حیران سیلونه کول
چا به دغې ناورین نکلونه کول

یو شپه توپان وو باران وریده
ونه خواره کۍ هم ډېره لړزیده

سهار چه خلک لمانځه ته ویښېدل
ښاخونه هر یو بند په بند ماتېدل

هره څانکه یې هر چېرې پرته وه
ګرده خپه او هم په تماشه وه

چا به وویل دا د توپان له لاسه
چا به وویل دا د باران له لاسه

ناګهانه د ټولو چینجو ته پام سو
کلیوالو فکرونه لږ ارام سو

که د سودا چینجی مغزو ته لار شي
عاقبت به لکه ددې ونې خوار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ثلوریزه

راغله پرخه پر مخ د گلاب
که خوله شوه جبین ته عذاب

باده! دومره تونددي خو مکړه
غوټۍ لا ښه وي پټ په حجاب

# ثلوریزه

ما چې سترګې و غړولې په لومړۍ وار
مورکۍ مې راته ویل چې زما ځان له تا جار

یون او ډیوه هم خوشحال دي ټوپونه وهي
زه اوس ملکه شومه دوی راته کوي کار



(زما د لورکۍ (لېمه) د پیدایښت په ورځ)

# بلنه

د دوستانو هرکلی ته گلونه ږدو
مونږ د نوي منزل پر لور گامونه ږدو

په هیله د راتګ مو لیک درلېږو
ستاسو په راتلو مونږ لا خوشالېږو

دا د نوي ترون تر ټولو ښه وختونه دي
دوستان سره یو ځای لکه د باغ گلونه دي

لکه باغ چه پر گلانو ښه ښکارېږي
زمونږ محفل په دوستانو ښه ښکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کوچیانو مېلې

د غرونو لمنې کې کوچیان اوسېدل
تل په یوه خوله په ښه شان اوسېدل

ما لیدلي هسې د دوی درې مېلې دي
چې یو بل ته سره ورته او نږدې دي

پېغلو به یوه نانځکه جوړوله
په ښایسته کالیو سینګاروله

ډول، ډول ګاڼه به وراچوله
سم کېږدۍ په کېږدۍ به یې ګرځوله

د دوی دغه نانځکه (پاتو) نومېده
شهزادګۍ غوندې په رښتیا ښکارېده



جونو به د هر یو خېمې ته ورتللې
د پاتوګۍ مخ، جامې به ورښودلې

کورنو هم بیا لاس غوټو ته سمول
جوار، غوړي،کرُت، غوښه به یې ورکول

دا هر څیز به یې بېل، بېل لوښوکې وړل
سهاربه یې خلک خیرات له ورغوښتل

پېغلوټو ټوله شپه سندرې کولې
چا به اور بل کړه چا به وریجې مینځلې

په سبا به ښه لوی خیرات ورنه جوړ شو
زاړه، واړه هر یو پکې سم موړ شو

هو! دغه رنګې د پېغلو مېلې ولې
قسم دی هغه شپې هم خوږې ولې

هلکانو به کولې ځانته نخرې
ټولو به هو وکړه په یوې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل راځئ چې جوړ کړو مېله یارانو
مونږ هم له نجونو نه څه کم یو ځوانانو

یو اوړ چې خندا نه ورتله په ننښه کړه
څهره یې پر وړو نور ښه ورسپینه کړه

د ځوانانو مشر (سپین ږیرک) نومېده
دغه هلک به له هیڅ چا نه شرمېده

شاډوبۍ او خېټه به هم ورسمه کړه
کېږدیو پر لور به یې وربرابره کړه

دوی به له ټولو خلکو شیان ټولول
وړه، غوړي، غوښه پرېمان ټولول

په بله ورځ به دوی خیراتونه کول
بیا نو د سپین ږیرک صپتونه کول

سپین ږیرو به ځان سره سوچونه کول
زلمو ته به دوی ورنونه ټپه ول



ویل راځئ مونږ هم خیراتونه وکړو
خپل زور معلوم د زړو هډونه وکړو

دوی یو لوښی چې (پاوکی) باله واخیست
ټولو نه یو، یو پاو غنم، اوړه واخیست

بیا نو خپل خیرات ته خوشحالۍ کولې
زلمو او پېغلو سره سیالۍ کولې

دا و یو شعر چې مې ولیکل یارانو
اوس ارمان کوم مېلې ته د کوچیانو

د ښاغلي خادم خان کوچي له کتاب (کوچاني پانگه)څخه ما نظم کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوريزې

ملګرو نن بیا زوریږم د وطن ارمان کومه
د سرو زرو په قفس کې د ګلشن ارمان کومه

چارچاپېره سکروټې دي زما زړه پکې داغېږي
خړې کوڅې او سوځېدلی چمن ارمان کومه

## څلوريزه

مکړه د پردو خویونه یاره بې پښتو به شې
زده دې کړل عجب چلونه یاره بې پښتو به شې

زه او ته پښتانه یو او پښتانه به یادیږو
خیر که د ولید ملکونه یاره بې پښتو به شې



## څلوريزه

نه مې ارام شته نه مې قرار شته
نه مې خزان شته نه مې بهار شته

په غمونو کې ډوب یم ډوبیږم
نه مې هېواد شته نه مې ګلزار شته

## څلوريزه

راشه اشنا که مې پرهارونه ګورې
بېلتون راکړي هغه زخمونه ګورې

ته به وایې چه زه به تل خوشحاله یم
غیرو ته خواري که نور ملکونه ګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریزه

چوپه خوله ناست یو پر مونږ ظلمونه کېږي
د پښتون پر کور عجب سیلونه کېږي

یا قلم رامات کړي یا مو زوی رامړ کړي
اوس نه ښایسته ډېر وختونه کېږي

## څلوریزه

زما چوپتیا مه ګڼه انکار ګڼلې زه شرمېږمه
زه پښتون یم نه را ځي اقرار ګڼلې زه شرمېږمه

ته را نه د مینې خبرې په ډک محفل کې غواړې
له ما نه کله شي دغه کار ګڼلې زه شرمېږمه



نظم ښاغلی ( جهاني صاحب ) ته

## پر هېواد مَېن جهاني په خیر راغلې

ستا لیکنې روښانوي تیاره زړونه
هر یو شعر دې ویښوي ویده قومونه
ولس ته ورسپړي مدام پټ رازونه
په خپله خاوره قرباني په خیر راغلې
پر هېواد مین جهاني په خیر راغلې

مسرې کړې جوړې څنک په څنک کتار کتار
ساز شي ترې هسې د بیتونو ښکلی هار
په کمال سر ته ورسوي دغه کار
پښتو د ادب ارماني په خیر راغلې
پر هېواد مین جهاني په خیر راغلې

د لر او بر په غم غمجن یې زوریږي
پښتون په تباهۍ خپه یې ژړیږي
د ګلانو په سوځولو ګړیږي
تېرونو ځان ځاني ته په خیر راغلې
پر هېواد مین جهاني په خیر راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګلانو جنازې

نن بیا زمونږ پر کور جوړه کربلاه ده
نړ پېدلی د کلي هره قلا د ه

لویه لاره پر سرو وینو لت پت شوله
ګودر هم سوځېدلی را ته جلا ده

د تنکیو ګلانو جنازه و شوه
پر هدیرو د خوارانو واوېلا ده

دې لوري ته غم دی بل هیڅ ځه نشته دی
بره کې د ځینو هسې جوړه غلا ده

نور په دې دنیاګۍ کې مو قصور نشته
بس پښتانه یو چې مو مېنه تالا ده



# ګلاب مې اخیستی اور دی

سره سره اورونه اوري زما په ارمانونو
ړانده بمونه اوري زما په ارمانونو

کلی کلی پاتې نه شو جوړه هدیره شوه
تل راکېونه اوري زما په ارمانونو

ما له د ګلو هار وې زما خوړه هېواده
اوس خزانونه اوري زما په ارمانونو

هیلې مې خاورې شولې صبر په ختمېدو دی
مدام غمونه اوري زما په ارمانونو

چا له وژاړم چې ګلاب مې اخیستی او دی
غمجن ګلونه اوري زما په ارمانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مورکۍ ته

مورې په کومه ژبه ستا د مینې اظهار کړم
زما ځان او زما جهان یې بس دا اقرار کړم

دروازه کې ناسته د راتلو لارې مې څارې
خدایږو اور پورې په ډېر درهم او په دینار کړم

چې مورکۍ مې رانه ملال، خپه، غمجن وي
نور خو بیا زه پښتون نه یم که پر سر دستار کړم

څه ښه وایي جنت د مور د پښو لاندې دی
دا ژوند به نثار تر هغه ژوند هزار کړم

دغه څو بیتونه د غټ دیوان ارزښت لري
ورته ګوره ادکۍ داسې ګلګون خپل اشعار کړم



## زه او زما ضمیر

نن مې وکړې خپل وجدان سره خبرې
د ضمیر له پټ جهان سره خبرې

ورته یاد مې کړل د هالنډ ډېر ګلونه
چې عدن سره سیالي کوي باغونه

له نګهته یې مچۍ په ګډا راځي
مفتون زړه ته زما بیا هم ژړا راځي

ستاینه مې ورته پیل کړه د ښکلو
مونږ یې کړو لکه اخګر د اور بڅرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت مې ورته وکړو، پاریس دپېغلو
څه د بلجیم د ایاغو، ډکو پیالو

ناڅاپه شعور نه داسې اواز راغی
مساپر روح ته یو سوزاوگداز راغی

وویل همېش مسلمان یم زه پښتون یم
د خپلې خړې خاورې به تل مجنون یم

تار، تار ځادر زړې څپلۍ مې یادېږي
قسم د تناره ډوډۍ مې یادېږي



## بې قراره شپه

زما پر هېواد بل اور دی زه به څه خوب وکړم
نن ژوندون راته پېغور دی زه به څه خوب وکړم

نازکې غوټۍ شولې هسې ځانگو کې مړاوې
نه بورا او نه یې شور دی زه به څه خوب وکړم

د روه ښکلې به سپوږمۍ سره سیالۍ کولې
اوس یې د سوال ټیکری خور دی زه به څه خوب وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوریزه

دا چې زما په ځمکه اور بل دی
دا چې زما په خاوره غو بل دی

دا چې زما له زړه وینې څاڅي
جوړ کړی کوم ظالم دغه چل دی



# د هیواد مینه

پتنګ خو له اوره کله ډار کړی
خپل ژواک په خندا له شمعې ځار کړی

عندلیب به مدام عشق په ګل کړي
پر سندرو ستاینه د یار کړي

مینه کې منصور غوندې چې مست وي
څه پروا د مرګي څه د دار کړي

هر بزم کې مرکه بس ستا کوي
پښتانه چېرته له مینې عار کړي

د لاله په شان هر یو داغ لري
بیا هم له ملکه ځانونه ځار کړي

احمدزی غریب خو شاعر نه دی
مساپر دی چه دا کار او بار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا څه ژوند دی تېرومه بس زندان کې
یو څو کاله مې تېر کړ واړه خپګان کې

د خپل خوږ هېواد هر یو چم مې یادېږی
ځورېږم د فکرونو دغه توپان کې

ما ویل څه به وګټم څه به ولېږم
اوس خو زه ګډ یم سراسر په تاوان کې

لکه ماشوم زړه خوشحالوم په خوږو
اخرسر مې سپین شو د وطن په ارمان کې

لویه ربه ورحمېږه زما په حال
ګنې نو احمدزی مړ به شي هجران کې



## څلوریزه

یو وړوکی شانتې ښونځی په غرو کې غواړم
چې ستر شوم پوهنتون هم په پښتو کې غواړم

نن لراوبر ته خپله ژبه سپکه ښکاري
زه بیا برم د مشرانو په شملو کې غواړم

## څلوریزه

اوسپنه چې څومره ټکېږي هغومره پخېږي
د پښتون بچي هر وخت ورو ورو میدان ته ګرمېږي

دښمن یې مدام پر مېنه ورشي خو دا یې هېر شي
هغه څوک چې اور ته نژدې کېږي اخر سوځېږي

*دوه پښتو متلونه دي*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کډه په سر یم

نن له ډېره غمه زخمي په ځيګر يم
د سپېلنو په شان سوی په مجمر يم

يو زما بل مې د ژبې قدر نشته
خپل هېواد کې بهر شوی له دفتر يم

ورور ته مې کافر ما ته مسلمان وايي
د غماز په تبر مات هغه نښتر يم

غرونه، کانونه، لعلونه مې لوټېږي
په دا دومره نعمتونو کې نهر يم

سيندونه مې د بل ځمکې آبادوي
زه هلمند کې جل وهلی درپه در يم

يو جنګ پسې بل جنګ بل پسې بل پيل شي
د جګړو له لاسه تل کډه په سر يم

احمدزيه ستا شعرونو کې رښتيا شته
وطن ته پټ پټ ژاړي زه ښه خبر يم



# غزل

چې زما په عاشقۍ کې ډېر بد حال دی
دا خو ځکه چې د يار په زنه خال دی

فکرونه څومره سخت شول تل مې زنګوي
د عاشق په برخه همېش د غم ټال دی

دلته لکه ماهي په سينه ثنبېږم
په هر ځای کې غماز غوړولی جال دی

ستا له کوڅې نه به رقيبان لاړ نشي
دغسې ما په ملا کتلی فال دی

سخي زوم د ټول کلي خوښ وي متل دی
د سپېره زوم سپېره کور سپېره يې مال دی

مينې داسې ساز راته په سر کې جوړ کړ
چې يې نه آهنګ سم دی نه يې څه تال دی

احمدزی غريب لېونو ته قريب شو
اوس مسکين خبر نه په مياشت نه په کال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درنه څمه

تر څو به کړې په پټه کتل اشنا درنه څمه
لږ په دېواله رابښکاره شه سبا درنه څمه

زه پوهېږمه گلې چې ستا مینه پښتنه ده
سترگو کې کوه جنگونه په رښتیا درنه څمه

ټول یادونه، سوچونه به له ځانه سره یوسم
زړه مې نه کېږي مجبور یم په ژړا درنه څمه



## غزل

یار ته چې گورمه فکرونو کې ورک شم
د لېونو غونډې سوچونو کې ورک شم

زر څه وي زور څه وي مال څه وي په عشق کې
نادان نه یم چې دې څیزونو کې ورک شم

څه ښه وایي چې دولت د لاس خیرې دي
پیسې به څه کړم چې ظلمونو کې ورک شم

زه مین یم له هر څه نه بې پروا یم
تل د جانان په صفتونو کې ورک شم

اوس زمونږ ښار کې رقیبان چرچې کوي
زه لکه یتیم په گردونو کې ورک شم

زړه مې راته وایي چې سیند ته ورټوپ کړم
کله، کله داسې غمونو کې ورک شم

دا شاعري به د احمدزي کور وران کړي
د قلم په شان به شعرونو کې ورک شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رښتينی انځور

چې د پی مخو په ښار کې بې قرار وي
يا به مسافر وي، يا خو به لاچار وي

د مار په خېر خرمن اچوي له غمه
هغه سړی چې لرې له خپل ديار وي

چې پښتون په مخه ورشي ژړا ورشي
که هر څومره په زړه سخت په ځان تيار وي

د پردو موټرو تصويرونه کاږي
قسم لکه اسپندي به يې روزگار وي

ځينې ځينې د يورپ په ژوند ډېر وياړي
څه به خوار پردېس وي، څه به يې وقار وي

د کلي نه تل د غم خبرې اوري
د وطن په غم به يې ځيگر پرهار وي

د احمدزي په مخ بيا اوښکې بهېږي
مسافر په زړه نری په روح بېمار وي



## غزل

چې هر وخت زما د وطن سودا کوي
نن هغه خلک د سولې غوغا کوي

کله يو کله بل لښکر سره جنگ کړم
ياران خو هسې چيغې د غزا کوي

لکه گونگ د خپلې ژبې بې برخې يم
که پښتو وايمه، پر ما خندا کوي

هم په زړه هم په ځيگر زخم راکوي
اُف ! چې همدوی خبرې د دوا کوي

د يوسف په شان مې خپل ورونه خرڅوي
بيا همدوی هر چا ته کښېني ژړا کوي

د شپې، شپې د غم کاروان ښار ته راولي
په سبا، سبا يې تور په بل چا کوي

د احمدزي په سينه کې دردونه دي
هېواد يې لوټېږي، زړه يې درزا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

شاعري سړي ته داسې يو عذاب شي
چې دوه،درې ټکو پسې ځيگر کباب شي

د تخيل گرفت ته هک پک حيران وي
ان دننه په گوگل کې زړه خوناب شي

ته به وايې د غمونو ټيکه دار وي
زر سوچونه لري کله ژر حساب شي

تر هغه کاغذ او قلم جيب کې ساتي
تر څو پورې چې پوره د ژوند کتاب شي

د هر چا په درد، درديږي تل ژړيږي
اخر به د اوښکو په سيند کې غرقاب شي

څه د جانان څه د جهان څه د اسلام
څه د وطن په فکرونو کې خراب شي

احمدزيه پام چې ته بې پښتو نه شې
که پښتو لاړه پيښور به پنجاب شي



# غزل

كه څوک په ژوند کې شي يو ځل مهمان د گلرنگو
هلته به ورته ښکاره شي ايمان د گلرنگو

څه په گفتار څه په رفتار څه په رخسار ښې دي
خو په زړونو يې کرکه وي پنهان د گلرنگو

ما ويل ځوانه دلته څه دي، ولې دلته راغلې؟
وی چې چوپ شه! ځواني مې شه قربان د گلرنگو

چا ياران چا خپلوان چا جانان چا وجدان پريښود
په توره شپه دوی ولاړ په دوکان د گلرنگو

بس لاس په لاس سودا ده ، مينه مينه نه شته ده
ځينې خلک هسې کوي ارمان د گلرنگو

صغيره گناه به دې هم کبيره گناه شي
داسې په گناه ککړ دی جهان د گلرنگو

احمدزيه اوس دی په حلوا کې غاښ ماتيږي
اوس چې زوړ شوې اوس پوه شوې په تاوان د گلرنگو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

عشق مې د زړه ستنې لړزوي عجب
د ماشوم په شان مې ژړوي عجب

ته به وايې چې تل نشه نشه يم
داسې مې په لاره زنګوي عجب

کاش يو زه سپک وای د ښکلو په مخ کې
ډېر ډېر درانده خلک سپکوي عجب

مينې ځيرې ګرېوان مخ په بازار کړم
اوس جهان راپورې خندوي عجب

زما او د پتنګ په برخه اور دی
مونږ دواړه په يو رنګ سوځوي عجب

هيڅ يې په علاج نه پوهېږم خلکو
بس دغه يوغم مې کړوي عجب

احمدزيه دا ستا په شعر کې څه دي؟
چې په مينو اور لګوي عجب



# غزل

نن خپه رانه جانان دی ربه خير کړې
زما زړه سخت په لړزان دی ربه خير کړې

ودانه د مينې دنياګۍ وه زمونږ
تنهايي کې غټ تاوان دی ربه خير کړې

پاس اسمان کې د غم ورېځې راښکاره شوې
ږلۍ ، باران که توپان دی ربه خير کړې

ته مې يار، ته مې دلدار، ته مې نګار يې
بې له تا مې ژوندون ګران دی ربه خير کړې

احمدزيه ورشه آشنا راپخلا کړه
د ربيار داسې فرمان دی ربه خير کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مینه وړیا، گټه بې ستړیا نه کېږي
محبت په ژړا یا په غلا نه کېږي

دلته به له سراومال نه تېرېدل وي
دغه گرانه سودا له هر چا نه کېږي

که د اشنا په خوله نوم د اشنا راشي
قسم چې بيا ژوند بې له اشنا نه کېږي

مدام ناصح ورته وايي صنم پرېږده
خو مجنون تل وايي بې ليلا نه کېږي

احمدزيه ته په جدايي کې زوړ شوې
د وصال تمه اوس نو له تا نه کېږي



## غزل

چې رانجه په سترگو پورې کړې بلا کوې بلا
يوه ورځ مې وژنې گلې چې همدا کوې همدا

کله دې مخ په سور سالو کې پټ کله ښکاره کړې
اشنا څه له داسې ظلمونه پرما کوې پرما

ما خو په مينه مينه ستا د نوم پوښتنه وکړه
ته په زوره زوره په کړس کړس خندا کوې خندا

يو زه يم چې مدام د زړه په وينو غزل ليکم
بل ته مې ورانه د خوبونو دنيا کوې دنيا

يا په شگو يا خو په گاټو گوزارونه کوې
د مينې دغه انداز څومره زيبا کوې زيبا

پرون هم ستا په انتظار کې ناست وم ته رانغلې
اى جانانه نن بيا هم خپله رضا کوې رضا

دا د غرونو احمدزى عجب بختور سړى دى
چې همېش ورته په پښتو کې وينا کوې وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتونواله

چې په خپل وطن شیدا وي هم مفتون وي
داسې خویونه یواځې د پښتون وي

نه له عشقه نه له جنګ نه په شا کېږي
هم یې رزم هم یې بزم کې ګډون وي

که صاحب د ډېر قدرت یا ډېر دولت شي
په هر حال کې په هر ځای کې ډېر موزون وي

جګ او ټیټ خان او غریب نه وي په منځ کې
پښتونوالې کې بس دغه یو مضمون وي



د بل ناموس ته د خور په نظر ګوري
ځکه یې خو خلک څنګ کې په سکون وي

که په ټول عمر خواري او مزدوري کړي
تل له خپله ربه راضي او ممنون وي

دردمن ځان یې د هېواد په درد دردېږي
همېشه به یې دردونو کې ژوندون وي

غلیم ته دا ځای لکه د سرېښو ډنډ دی
چې دلته بند شي ورباندې جوړ شبخون وي

احمدزیه پښتانه سره جرګه کړه
که نه تل به ستا د لراوبر بېلتون وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نن خو بيا د اشنا غم را باندې زور دی
زما په سر کې جوړ شوی عجب شور دی

هم مې زړه هم مې ځيګر لمبه لمبه شي
چې آه مې له خولې خېژي په شان د اور دی

مساپرۍ کې مې بې وخته سر سپين شو
د ژوند فصل ته برګر ويستلی لور دی

د بېلتون تنور کې ورځ په ورځ پخېږم
د تناره سيخ غوندې مې رنګ تک تور دی

کله د غرب کله د عرب مزدور يم
دا خو ځکه چې ما نه خپه خپل ورور دی

که څه اوس هم کابل په وينو رنګ ښکاري
پر ما ګران دی هلته مې د جانان کور دی

يا دا همه د وختونو امتحان دی
يا عشق کې د احمدزي نصيب نسکور دی



# غزل

په رښتيا خبرو ډارېږي هر اشنا نن سبا
د دې خلکو شونډې ګنډلې دي کوم چا نن سبا

ساقي راشه په ماتو هندارو لږ نظر وکړه
دلته روغ زړونه پاتې نه دي د هېچا نن سبا

زمونږ د ښار اپلاتون هم بې ځوابه غوندې دی
ناست يو بس تيارو کې په تمه د رڼا نن سبا

يوه ځواني دوهم غريبي درېيم چې مينتوب شي
دغه درې خو عاشقانو ته شي سزا نن سبا

احمدزيه دا باقي عمر ميخانه کې تېر کړه
که څه غم کړې د هغې ابدي دنيا نن سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستا د مینې دېوانه یم
هم پاګل هم مستانه یم

پتنګ غوندې اور ته ورشم
عجب عشق کې مردانه یم

یو ساعت لکه د کال شي
داسې بند په جېلخانه یم

ځیګر مې له وینو ډک دی
تل د غشو نښانه یم

چې جنت نه خلک باسم
د غنم هغه دانه یم

څومره جفا ده وطن کې
مدام سر په ویرانه یم

زه احمدزی ډېر ګمنام وم
اوس جهان کې افسانه یم



# غزل

یو غم د سل غمونو برابر دی نن
چا ویل چې په دې کلي کې اختر دی نن

دلته هره کوڅه له سوالګرو ډکه
دلته بیا هغه خوار یتیم نهر دی نن

پرون هم د چا په کور کې ویر و نن هم
بس همدغه د نن تازه خبر دی نن

زما ځوان شاعر د نجونو مستې غواړي
د پښتنې پوړنې ته خطر دی نن

نه یې په سر کې څه، نه څه تپوس کوي
زما لیکوال صاحب لږ څه اوتر دی نن

د ښار نامتو زمری خان هم ګیدړ وخوت
د خیرات په وخت کې خان په سفر دی نن

احمدزیه د مظلوم مرستې ته ورشه
اوس خو د قوم مشرتوب ستا په سر دی نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې دې څومره خورمه لا ډېرېږي غمه
ورځ په ورځ په ما باندې غمېږي غمه

کله کله د خانانو خوا ته ورشه
نه توبه ! ته خو هلته شرمېږي غمه

بېخي نه ختمېږې، بېخي نه درېږې
د یورپ باران غوندې اورېږي غمه

غم بې نېټې راځي دغه یو متل دی
د دې کلي پر سر تل چورلېږې غمه

ما ویل چې نو شپه ده سبا به شي اخر
ته لکه د تورې شپې تورېږې غمه

ړومبی زه ماشوم وم بیا ځوان شوم اوس زوړ یم
عجب کار دی ته هیڅ نه زړېږې غمه

احمدزی چې چېرته ځي ته هم هلته ځې
لکه سیوری راسره گرځېږې غمه



# غزل

په سوال او زاري کله تم کېږي ژوندون
څومره په منډه منډه تېرېږي ژوندون

په تور رنگ باندې سپین وېښتان نه پټېږي
لکه سپین غر کال په کال سپینېږي ژوندون

د دنیا قومونو سره خوشالي کړي
مونږ سره په غوړو کې سوځېږي ژوندون

زه په ځوانۍ کې پر تا ډېر ډېر نازېدم
چې زوړ شوم پر ما خندېږي ژوندون

ما به ویل چې عمر چېرته ژر خلاصېږي
خو د سترگو په رپ کې ختمېږي ژوندون

تېر وخت د پسرلي موسم په شان خوږ و
اوس لکه د ژمي شپه سړېږي ژوندون

چې احمدزی سم شي ژوند یې نه سمېږي
د یو وران محل غوندې نړېږي ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د اشنا اشنايي غم سره اشنا کړم
هر اشنا او نااشنا ته يې رسوا کړم

چې د خوبونو دنيا مې شوله ورانه
له ډېره درده په ويښه شپې سبا کړم

اوس مې سترګو کې اوښکې ايسارې ښې دي
که سېلابي شوې اباسين به تالا کړم

يو د ښکلو مينې سپک لکه د خس کړم
بل يې د دوست او د دښمن د خندا کړم

څه مينه ړنده، څه عاشقان ړانده وي
زه خو څه ستا څه د وخت جفا بينا کړم

ستا نوم سره به تل بې وفا وليکم
ټول پوهېږي چې روا که ناروا کړم

احمدزيه ولې دومره ډېر فرياد کړې ؟
چې مې يار ستمګر شو خود به غوغا کړم



## غزل

د مينې کار او بار کې نقصان خو به وي
د زړه سودا کې د زړه تاوان خو به وي

چې په خپله د عشق اور ته ځان ګذار کړي
نو د لمبو په منځ کې ګوزران خو به وي

اوس چې سترګو ته په کومو سترګو ګوري
بيا د هغو سترګو نه باران خو به وي

سم دم سرې شي لېونی چې مين شي
د پاګل سړي ځيرې ګرېوان خو به وي

که پرېشاني يې وي د پرېشانو زلفو
لکه احمدزی پرېشان پرېشان خو به وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

هر څه ختمېږي نه ختمېږي د زړه درد
مينه کې هره ورځ ډېرېږي د زړه درد

چې همېشه زما زړه ته را روان وي
عجب مې ژر ژر ميلمه کېږي د زړه درد

نه ځوان نه زوړ نه غريب نه موړ پېژني
سړي سره يو ځاى اوسېږي د زړه درد

بهر کې چې خپل کور او کلی را ياد شي
بيا مې په سينه کې مستېږي د زړه درد

د يو چا غمونو ډېر ډېر سودايي کړم
اوس بېخي بېخي نه پټېږي د زړه درد

درسته شپه ويښ يم، نه خوب نه کرار لرم
بس د مياشي په شان بنگېږي د زړه درد

واه واه احمدزيه په دې ښکلي غزل
چې په لوستلو يې کمېږي د زړه درد



# غزل

څه ښه ورو لمر ته سمېدلې کاپرگلې
اُف!عجب په مينه پوهېدلې کاپرگلې

زه د غرونو يو ساده پښتون په زړه سخت ومه
ته د کاپر لور پرما گرانېدلې کاپرگلې

بازار کې به زه په منډه منډه تېرېدمه
ته به هر دکان ته درېدلې کاپرگلې

د ورځې مې همېشه په سترگو کې غړېدې
خو پرون مې ډېره يادېدلې کاپرگلې

زما په دين او مذهب کې شراب څکل حرام دي
ته به په لاره کې ځنگېدلې کاپرگلې

يو ستا دنگه ونه، دنگه غاړه دنگه ځواني
بل به د خوار په درد دردېدلې کاپرگلې

احمدزی غمزده و غمزده به پاتې شي
چې دا ته ولې په قهرېدلې کاپر گلې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وطنه تل مې تاپسې ځورېږي زړه
اوس په چيغو چيغو کله تشېږي زړه

پرون مې د جومات پېتاوی راياد شو
قسم چې لاترواسه مې خورېږي زړه

ما ته په تعويذ کې خړې خاورې راوړئ
چې د غريب مساپر پرې رغېږي زړه

د دنيا اورونه ورته خړ سترګې شي
په داسې اور مې ګوګل کې سوځېږي زړه

زمونږ ښار کې زمونږ دښمنان ګرځي
خود مې له ډېرې غصې نه خوټېږي زړه

زه او درد همېش سره غاړه غړي يو
نه غاړه غړوي شم، نه سمېږي زړه

احمدزيه دا ته هم عجب سړی يې
مدام دې د هېواد په غم غمېږي زړه



# غزل

خان که ريا کړي خلکو ته رښتيا ښکاري
خوار که رښتيا کړي خلکو ته ريا ښکاري

دلته هم سوالګر هم حکمران سوال کوي
خو چا ته ناروا چا ته روا ښکاري

يوه پښتنه په محفل کې ګډېږي
يو پښتون ته دغه مسته ګډا ښکاري

وينو چې مو وينې بېخي يو رنګ لري
خو ستا وينه ګرانه، زما وړيا ښکاري

که غريب سړی دانا وي نادان ښکاري
که نادان سړی شتمن وي دانا ښکاري

چې سپين شخص سپينې سپينې خبرې وکړي
بيا ځينو اشخاصو ته بې حيا ښکاري

احمدزيه خوله پټه کړه سر به بايلې
اوس نو په ښار کې سر په سر سودا ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نـن بیـا خپـل اسـتاد تـه چیغېـږي یـو ماشـوم
څــه پــه ســلګو ســلګو ژړېــږي یــو ماشــوم

د ټـولګي پـه یـو کـنج کـې شـنې لښـتې پرتـې
لــه دغــه حالــت نــه ځــورېږي یــو ماشــوم

چـې معلـم یـې پـه وهلـو غـواړي سـم کـړي
خــو پــه وهلــو نــه ســمېږي یــو ماشــوم

ســـهار وختـــي ښـــونځي تـــه وړی شي روان
د مــورکۍ پــه اوښــکو پــوهېږي یــو ماشــوم

یـو یـې زوړ پـوړ بکـس بـل یـې شـلېدلې جـامې
خپلــو همزولــو تــه شرمېــږي یــو ماشــوم

نــه یــې چپلکــې نــه یــې بوټونــه شــته دي
د پښــو لــه درده تــل دردېــږي یــو ماشــوم

احمدزیـــه لـــه دې ښـــاره لـــرې ګرځـــه
دلتـــه اوس هـــره ورځ قتلېـــږي یـــو ماشـــوم

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**